# د کورنیو ملاتړ

EACH هغو کورنیو ته ملاتړ چمتو کوي، کومې چې یو داسې ماشوم لري (۱۸ کلن یا تر هغه کم) چې له ژوند ګواښونکي یا ژوند محدودوونکي **ناروغۍ ولري** . دغه خدمتونه په نارفوک، سافوک، کامبرجشایر **او د شمالي، منځني او لویدیځ ایسیکس په شمالي برخو کې د لاسرسي وړ دي..**

EACH له تشخیص څخه نیولې د ژوند تر پایه او بلاخره د ویر په موده کې بیلابیل خدمات وړاندي کوي، چې کېدای شي په مجازي بڼه، ستاسي په کور کې، روغتون کې یا زموږ له دریو هاسپیسونو په کوم یوه کې چمتو شي:

- **Milton**کامبریج ته نژدې,
- **The Treehouse**په اپیسویچ کې او
- **The Nook**په نارفوک کې.

د هاسپیسونو ودانۍ پراخې او د ماشوم لپاره دوستانه او د کورنۍ غونډې فضا لري.

د هاسپیس کلیمه ځینې‌وختونه کېدای شي ویروونکي وي، خو د EACH خدماتو کارول په دې معنی نه دي چې ګواکي د ماشوم مرګ نژدې دی ځکه EACH د ژوند پای پاملرنې ترڅنګ ګڼ نور خدمات هم لري. ډېر هغه ماشومان او نوي ځوانان چې د EACH خدمات کاروي، ډېر فعال وي او په ۱۸ کلنۍ کې د بالغانو خدماتو ته ځي. یو تعداد کورنۍ یوازې **زموږ لخوا د جوړېدونکو ساتنېزې** پروګرامونو برخه وي خو نورې بیا د ځان **د ښېګڼې**، ذهني سلامتیا**یا د ماشوم د علایمو د مدیریت په برخه کې متمرکزې مرستې او همکارۍ ته اړتیا لري..**

کله چې کومه کورنۍ د EACH خدمتونو لپاره وړ وګڼل شي، **نو د ټیم کوم غړی به**درسره اړیکه ونیسي څو معلومه کړي، چې هر اړخیزه ارزونه په حضوري توګه وشي یا د (Microsoft Teams) غونډي کوم مجازي پلاټفورم وکارول شي. (Microsoft Teams). د ارزونې موخه د کورنۍ د ټولو غړو پېژندل دي او غواړو پوه شو، چې ستاسې لومړیتوبونه کوم دي. دغه ارزونه همداراز یو فرصت دی، چې د EACH خدماتو اړوند معلومات ترلاسه کړئ څو په ګډه پریکړه وکړای شو چې ستاسي د کورنۍ اړتیاوو ته کوم خدمات په بهتره توګه ځواب ویلی شي.

### کورنیو ته د EACH لخوا چمتو کېدونکي خدمتونه عبارت دي له:

- د علایمو د مدیریت تخصصي مشوره او ملاتړ
- د ژوند پای پاملرنه او ملاتړ
- د ورځې او شپې لخوا وقفه‌ای خدمات
- د کورنۍ غړو لپاره په انفرادي او ډله‌ییزه توګه د رواني روغتیا او هوساینې مرسته
- د کورنۍ لپاره پروګرامونه او فعالیتونه

زموږ **څو رشتهای تیم** عبارت دی له: نرسانو،



- د ماشومانو مسلکي پالیتیف پالونکو
- کلينيکي متخصصي نرسانو
- مشورتي نرسانو
- مراقبتي همکارانو
- د کورنی معالجينو
- رواني مشاورينو
- د لوبو متخصصينو
- د موسيقی له لارې درملنه کوونکو
- د هنري کارونو له لارې درملنه کوونکو
- فزيوتراپيستانو
- د کار له لارې درملنه کوونکو
- مذهبي مشاورينو
- اشپزانو او
- د. پاک کاری کارکوونکو

EACH همداراز زدکوونکي هم لري، چې تر نظارت لاندې کار کوي.

EACH د ټولو دينونو، کلتورونو او توکمنو لرونکو **کورنيو سره کار کوي**او د کورنيو مذهبي دودونو او کلتوري اړتياوو ته، چې د هر فاميل په ژوند کې ارزښت لري، په بشپړه توګه درناوی کوي.

د اړتيا په صورت کې ژباړونکي هم چمتو کيږي.

EACH د کورنيو د معلوماتو **انلاين سرويس لري** – [https://www.each.org.uk/family- zone/information-hub/](https://www.each.org.uk/family-zone/information-hub/) په دغه کې د کورنيو لپاره د ځانګړو رخصتيو او د مالي مرستو برابروونکو سازمانونو اړوند معلومات موجود دي.

زموږ د خدماتو د ټولو کاروونکو د محريت او خصوصي حريم ساتنې لپاره تاسي اجازه نه لرئ چې د نورو ماشومانو يا نويو ځوانانو عکسونه واخلئ يا ئې عکسونه او معلومات پر ټولنيزو رسنيو خپاره کړئ.

د Care Quality Commission هغه اداره ده، چې د خدماتو د کيفيت او خونديتوب او همداراز له اصولو سره زموږ د درناوي وضعيت ارزوي. د دوی د ارزونې وروستی راپور دلته موندلی شئ .www.cqc.org.uk

**د کورنيو نظريات:**

د لوسي مور"د لوسي غوندي ماشومان د شپې لخوا له کوره بل ځای پاته کېدو يا
د ملګرو کره د تګ فرصت نه لري، نو په هاسپيس کې راشه درشه او اړيکه خورا ارزښت لري. ټيم له لوسي سره ښه اشنا دی او فعاليتونه او لوبې د هغې په خوښه جوړوي. هغه هم لکه نورو ځوانانو غوندي پر تلويزون د موسيقۍ پروګرامونه خوښوي."

د تالولا مور وايي "موږ له تالولا سره ډېر کم وخت درلود او امکان يې و چې دغه لږ وخت په وارخطايی او وروسته په پښېمانۍ سره تير شي، خو EACH موږ له دغه پړاو څخه په خوندي توګه تير کړو او ډاډ يې تر لاسه کړئ، چې موږ له خپل وخت څخه اعظمي ګټه پورته کړو، آن هغه مهال چې نه پوهېدو څه روان دي."

د ختیځ انګلیا د ماشومانو هاسپیس (EACH)
**د کورنیو ملاتړ**

د جیډن مور وایي "د هاسپیس نوم له اورېدو سره سم مې پریکړه وکړه چې د خپل زوی لپاره داسې یو څه نه غواړم، خو خو کله چې مې په دې سرویس بښه سر خلاص کړ، نو پوهه شوم چې دا واقعي خدمت دی او زموږ ټولو لپاره ګټور ثابتېدای شي. په روغتون کې له لومړۍ ورځې زموږ سره مرسته پیل شوه، څو موږ د یوازیتوب یا ګوښه توب احساس ونکړو او تل یو څوک موجود و چې زموږ سره د اړتیا په صورت کې مرسته وکړي.

"هاسپیس ته لومړی ځل راتګ زموږ لپاره ډېر سخت و. موږ له جیډ سره ډېر وخت تېر کړی و او راته سخته وه، چې اوس یې د بل کس مراقبت ته وسپارو. هڅه مې وکړه چې ځان بوخت وساتم او اندیښنه ونکړم، چې د وخت په تیریدو سره مې اندیښنه رفع شوه ځکه پوهېدم چې د هغه سمه پالنه کیږي. اوس موږ کولۍ شو ارام وکړو، چې همیشه اړین دی!

"جیډن په روغتون کې د زیات وخت تیرولو په خاطر له غیږي ورکولو سره اشنا نه و، د لاسونو یا پښو لمس ئې نه خوښاوه  او دا چاره زموږ لپاره د والدینو په توګه خورا سخته وه.

خو موږ د EACH له متخصصینو سره ډېر کار وکړئ او جیډ دامهال ډېر ښه شوی - دغه ډول کارونه زموږ لپاره بېحده ارزښت لري."

**زموږ له ټیم سره اړیکه ونیسئ**

EACH Milton (Cambridgeshire) 01223 815100;

eachmiltonadmin@each.org.uk EACH The Nook (Norfolk) 01603 967596;

nook.admin@each.org.uk

EACH The Treehouse (Suffolk and Essex) 01473 271334;

ipswichadmin@each.org.uk EACH Symptom Management Nursing Service 0808

196 9495; each.each.smns@nhs.net www.each.org.uk/contact-us

د ختیځ انګلیا د ماشومانو هاسپیس ( HRH The Duchess of Cambridge EACH :Royal Patron – www.each.org.uk –EACH) is a registered charity (no. 1069284)

د غوښتنې په صورت کې دغه لیفـلیټ په بله بڼه هم چمتو کېدای شي (په بله ژبه، بریل او په اسانۍ لوستل کېدونکی خط).